لوړو زده کړو وزارت

تابش پوهنتـــــون

علمي چارو معاونیت

دعوت او ارشاد آمریت

# د امیرالمومنین حفظه الله تعالی د احکامو او فرمانونو د پوهاوي،تطبیق او نظارت کړنلاره

کال:۱۴۰۴

بسم الله الرحمن الرحيم

## فهرست

**عنوانونه**

**مخ**


سریزه........................................................................................................4

لومړی فصل

عمومي احکام.................................................................................................5

لومړۍ ماده مبنی:............................................................................................5

دویمه ماده: موخې: ..........................................................................................5

دویم فصل

د نهاد په کچه د احکامو او فرامینو  پوهاوي، تطبیق او نظارت ....................................5

دریمه ماده: رسمي ابلاغ ......................................................................................5

څلورمه ماده: عامه پوهاوي سیمینارونه .......................................................................6

پنځمه ماده: خارنه او ارزونه ...................................................................................6

شپږمه ماده: د محصلینو ونډه ..................................................................................6

دریم فصل

د فرمانونو د پوهاوي او تطبیق بهیر څخه نظارت او اړونده برخو ته لیږل ......................6

اوومه ماده: د دعوت او ارشاد کمیټې مسؤلیتونه: ..........................................................6

اتمه ماده: اړوندو برخو ته د احکامو او فرامینو لیږل : ....................................................6

څلورم فصل

په رسنیو کې د علمي کادر او کارکوونکو د ګډون اصول، د خبرو شرایط او د روزنیزو برنامو تدویر ..............6

نهمه ماده:  په رسنیو کې د ګډون اصول:.......................................................................6

لسمه ماده: د خبرو شرایط: ....................................................................................7

یوولسمه ماده: د روزنیزو برنامو تدویر: .......................................................................7

دولسمه ماده: د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکمونو او فرمانونو د عامه پوهاوي پالیسي تصویب: ..................7

## سریزه

د اسلامي امارت د مشرتابه د لارښوونو، او د امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د احکامو او فرامینو په رڼا کې، د پوهنتونونو د فکري، علمي او اداري چارو سم مدیریت او منظم تطبیق د ټولو بنسټونو ځانګړې دنده ده. پوهنتونونه چې د علمي او مسلکي روزنې مهم بنسټونه دي، مکلف دې د اسلامي ارزښتونو د ساتنې، د شرعي لارښوونو د تعقیب، او د نظام د تګلارو د پلي کولو په برخه کې ځانګړې ونډه واخلي.

په همدې اساس، د امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د احکامو او فرامینو د پوهاوي، نظارت او تطبیق لپاره یو منظم او عملي طرزالعمل ترتیب شوی، څو د پوهنتون ټولې علمي، اداري او تدریسي برخې د واضح چوکاټ په رڼا کې خپلې دندې ترسره کړي. دغه طرزالعمل د پوهاوي د رامنځته کولو، د تطبیق د بهیر د څارنې، د رسمي مکتوبونو له لارې د فرامینو د ابلاغ، د رسنیو په برخه کې د ګډون د اصولو، د خبرو د شرایطو او د روزنیزو برنامو د تنظیم څرنګوالی بیانوي.

د دې طرزالعمل عملي کول د پوهنتون د ټولو استادانو، کارکوونکو او محصلینو لپاره الزامي ګڼل کېږي او د نظام د ثبات، عدالت او علمي پرمختګ د ټینګښت په موخه د یوه منظم میکانیزم په توګه تطبیق کېږي.

## لومړی فصل

## عمومي احکام

### لومړی ماده

### مبنی

دغه پالیسي د لاندې اصولو او دلایلو په اساس ترتیب شوی دی:

1. دا کړنلاره د تضمین کیفیت دویم اصلي معیار د لومړي فرعي شاخص د لارښوونې په اساس ذکر شوي پالیسي ترتیب شوي.
2. د اسلامي امارت د مشرتابه لارښوونې: د امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) صادر شوي احکام او فرامین.
3. د اسلامي امارت تګلارې او مقررات: هغه پالیسۍ او اسناد چې د نظام د چارو د سمون او تطبیق لپاره تصویب شوي دي.

### دویمه ماده

### موخې

1. د پوهنتون په ټولو علمي، اداري او تدریسي برخو کې د امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د احکامو او فرامینو د تطبیق لپاره روښانه میکانیزم رامنځته کول.
2. د استادانو، کارکوونکو او محصلینو تر منځ د اسلامي نظام د تګلارو په اړه پوهاوی او پوهه لوړول.
3. د صادر شویو احکامو، فرامینو او تګلارو د دقیق، واحد او منظم ابلاغ لپاره د رسمي لارو چارو کارول.
4. د تطبیقي بهیر د څارنې لپاره ځانګړې کمیټې او میکانیزمونه رامنځته کول، تر څو د هرې نیمګړتیا مخه ونیول شي.
5. د پوهنتون د علمي کادر د رسنیز ګډون لپاره واضح اصول او د خبرو شرایط ټاکل، څو یوازې د اسلامي نظام دریځ او ارزښتونه انعکاس ومومي.
6. د استادانو، کارکوونکو او محصلینو د کچې مطابق د پوهاوي او روزنیزو برنامو تنظیم او پلي کول.
7. د اسلامي ارزښتونو په رڼا کې د پوهنتون ټول فعالیتونه د نظم، شفافیت او مسوولیت پر بنسټ پر مخ وړل.
8. د فرمانونو او احکامو د پوهاوي او تطبیق څرنګوالی

## دویم فصل

## د نهاد په کچه د احکامو او فرامینو پوهاوي، تطبیق او نظارت

### دریمه ماده

### رسمي ابلاغ

1. ټول احکام او فرامین د پوهنتون رئیس یا د علمي مرستیال له لوري په رسمي مکتوب یا برېښنالیک له لارې اړوندو پوهنځیو او ادارو ته لېږل کېږي.
2. د پوهنتون او پوهنځیو د شوراګانو له طریقه د خبر ورکول.
3. د دعوت ارشاد آمریت او کمېټې لخوا خبر ور کول.

**څلورمه ماده**

**عامه پوهاوي سيمينارونه**

1. د هر نوي حکم یا فرمان د وضاحت لپاره به د پوهنتون په کچه د پوهاوي سیمینارونه جوړېږي.
2. اړوند مسؤلين به د احکامو د محتوا تشریح کوي او د عملي کولو څرنګوالی به واضح کوي.
3. د پوهنتون د ويبسايټ او د ټولنيزو شبکو له لارې به د عامه پوهاوي په موخه خپرېږي.

**پنځمه ماده**

**څارنه او ارزونه**

1. د پوهنتون د دعوت او ارشاد آمریت او کمیټه به په ټاکلو موده کې د فرمانونو د تطبيق بهير وارزوي.
2. د نیمګړتیاوو په صورت کې به د سمون وړاندیزونه او تعقیبي ګامونه اخلي.

**شپږمه ماده**

**د محصلينو ونډه**

- د محصلينو د پوهاوي لپاره به د صنفي غونډو او ځانګړو ورکشاپونو له لارې د احکامو محتوا تشریح کېږي.
- محصلين د امير المومنين حفظ الله تعالی د احکامو او فرامينو د په تطبيق مکلف دي.

**دريم فصل**

**د فرمانونو د پوهاوي او تطبيق بهير څخه نظارت او اړونده برخو ته ليږل**

**اوومه ماده**

**د دعوت او ارشاد کميټې مسؤليتونه:**

1. د دعوت او ارشاد کمېټه به د اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی ورعاه د فرمانونو د پوهاوي او د تطبيق د بهير څخه نظارت کوي.
2. کمېټه د احکامو د تطبيق څرنګوالی څاري او راپور يې د پوهنتون علمي شورا ته وړاندې کوي.
3. د ستونزو او خنډونو د لرې کولو لپاره د اصلاح وړاندیزونه وړاندې کېږي.

**اتمه ماده**

**اړوندو برخو ته د احکامو او فرامينو لېږل**

ټول احکام او فرامین په رسمي مکتوبونو او برېښنالیکونو له لارې اړوندو پوهنځيو، شعبو او ادارو ته لېږل کېږي.

**څلورم فصل**

**په رسنيو کې د علمي کادر او کارکوونکو د ګډون اصول، د خبرو شرايط او د روزنيزو برنامو تدوير**

**نهمه ماده**

**په رسنيو کې د ګډون اصول**

- ټول علمي کادر او کارکوونکي يوازې د پوهنتون د رهبري د مخکېني موافقې او اجازې وروسته په رسنيو کې د خبرو حق لري.

- ګډون باید د اسلامي نظام د تګلارو، د امیرالمؤمنین د احکامو او فرامینو، او د پوهنتون د ارزښتونو په رڼا کې وي.
- هېڅ یو کادر یا کارکوونکی نه شي کولی په شخصي توګه داسې څرګندونې وکړي چې د نظام د رسمي دریځ او سیاستونو خلاف وي.
- د رسنیو د هرې مرکې، ګردي میز، یا غونډې په اړه باید مخکې له مخکې اړوند مسوول ته خبر ورکړي.

## لسمه ماده

## د خبرو شرایط

- خبرې باید په ساده، روښانه، مؤدبانه او اسلامي ادبیاتو کې وړاندې شي.
- د امیرالمؤمنین احکام، فرامین او د نظام تګلارې باید د خبرو اساسي محور وي.
- له هغو جملو، اصطلاحاتو یا څرګندونو باید ډډه وشي چې د نظام د ارزښتونو او تقدساتو سره په ټکر کې وي.
- د پوښتنو ځواب باید په دقت، صبر او اسلامي اصولو باندې ولاړ وي.
- د علمي کادر یا کارکوونکو شخصي نظر یوازې هغه وخت وړاندې کېدای شي چې د اسلامي نظام د دریځ او پوهنتون د اصولو سره سمون ولري.

## یوولسمه ماده

## د روزنیزو برنامو تدویر

- د پوهنتون د علمي معاونیت تر چتر لاندې او مسلکي پرمختیا مرکز، د دعوت ارشاد کمېټې او د پوهنځیو په همکارۍ سره د پوهاوي پروګرامونه په منظم ډول د علمي کادر، کارکوونکو او محصلینو لپاره جوړېږي.
- په دې برنامو کې د امیرالمؤمنین حفظه الله د احکامو، فرامینو، او د اسلامي نظام د تګلارو په اړه وضاحت او پوهاوی ورکول کېږي.

## دولسمه ماده

## د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکمونو او فرمانونو د عامه پوهاوي پالیسي تصویب

د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکمونو او فرمانونو د عامه پوهاوي پالیسي په دریو فصلونو او دولسو مادو کې ترتیب او او د پوهنتون د علمي شورا په (۰۸ / ۱۰ /۱۴۰۴) نېټه او (۱۲) ګڼه پروتوکول کې د رایو په یو والي سره تائید دي.

دوکتور عبدالحمید سیرت

تابش پوهنتون رئیس